**مهمه یادونه:** دا د دې لیک د بشپړولو لپاره یو لارښود دی. مستقیماً دا نسخه مه ډکوئ یا یې مه لیږئ. دا لارښود تاسو سره د هغه نمونه لیک په پوهېدو او بشپړولو کې مرسته کوي کوم چې دلته موندل کېدی شي.

دا لیک یوازې هغه وخت اړوند دی که چېرې تاسو د ARAP یا EGS غوښتنلیک سپارلی وي او ستاسو غوښتنلیک رد شوی وي.

**[ستاسو نوم او تخلص]**
**[ستاسو د تلیفون شمېره]**
**[ستاسو د برېښنالیک پته]**

↑

په لومړي سر کې دا معلومات بشپړ کړئ

**Defence Afghan Relocation and Resettlement (DARR)**
Ministry of Defence Main Building Whitehall
London SW1A 2HB

*دې پتې ته یوازې د برېښنالیک له لارې:* darr-arap-review@mod.gov.uk

نېټه: → د دې لیک د سپارلو نېټه ولیکئ

د DARR محترمې ادارې ته،

**عاجله غوښتنه:**

**د معلوماتو له افشا کېدو وروسته زما د ARAP/EGS غوښتنلیک بیاکتنه**

**د ARAB/EGS ځانګړې شمېره یا ریفرینس: [که پرې پوهېږئ]** ← که چېرې د خپل غوښتنلیک ځانګړې شمېره یا ریفرینس لرئ، هغه دلته ولیکئ.

ما د ARAP/ Ex-Gratia سکیم له لارې انګلستان ته د منتقل کېدو لپاره غوښتنلیک وسپارل او پرېکړه مې تر لاسه کړه چې زه وړ نه یم.

د دې پرېکړې (پرېکړو) نېټه او د امکان په صورت کې د پرېکړې مکتوب یوه کاپي ضمیمه کړئ.

لکه څنګه چې لاندې تشریح شوي، زه اوس پوهېږم (یا د معقولو دلایلو پربنسټ باور لرم) چې د انګلستان حکومت لخوا زما د معلوماتو د افشا کېدو له امله زه د پام وړ اضافي خطر سره مخ شوی یم.

له دې امله چې ما ته په دې مخکې خبر راکړل شوی نه وو، دا زما د غوښتنلیک په اړه د پرېکړې کولو پروسې، د بیاکتنې پروسې په ګډون، عدل ډېر کمزوری کوي.

له همدې امله زه اوس د دې لیک په ترڅ کې غوښتنه کوم چې زما غوښتنلیک ته په بېرته دول بیاکتنه وشي او ما ته کافي معلومات او مناسب فرصت راکړل شي ترڅو د دې موضوعاتو په اړه نور معلومات، شواهد او/یا اسناد ونه په پام کې ونیسم او چمتو کړم.

**<u>د معلوماتو افشا کېدل، خطرونه: بیرنۍ بیاکتنه اړینه ده</u>**

ما د ARAP/EGS له لارې غوښتنلیک وسپارل ځکه چې زه د خپل خوندیتوب او د خپلې کورنۍ د خوندیتوب په اړه ډېر اندېښمن یم.

مهرباني وکړئ د لاندې بکسونو څخه هغه یو په نښه کړئ چې د تاسو لپاره صدق کوي

☐ **ما تاییدي ترلاسه کړې چې زما معلومات په افشا شویو معلوماتو کې شامل دي.** ما د بریښنالیک یا د Self-Check وسیلې له لارې مثبته تاییدي ترلاسه کړې، او له دې لیک سره یې ضمیمه کوم.

☐ **ما تاییدي نده ترلاسه کړې، مګر ما د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ په ۷مه یا له دې نیټې څخه مخکې غوښتنلیک سپارلی دی.** لکه څنګه چې زما غوښتنلیک [په دې نېټه/مخکې له دې نېټې] د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ ۷مه سپارل شوی وو، زه د معقولو دلایلو پر بنسټ باور لرم چې زما معلومات په افشا شویو معلوماتو کې شامل دي. زما ځانګړې شمېره یا رېفرینس دا دی: [*ځانګړې شمېره دلته ولیکئ*].

**له همدې امله زه د دې موضوعاتو د عاجلې تاییدي غوښتنه کوم.**

زه اوس په ژوره توګه اندېښمن یم چې عامه خلک زما هغه معلوماتو ته لاسرسی لري کوم چې ما په خپل غوښتنلیک کې لیکلي وو او کېدی شي د هغو خلکو لاس ته ورشي چې غواړي ما یا زما کورنۍ ته زیان ورسوي.

دې کار ما او زما کورنۍ له ډېر زیات خطر سره مخ کړې یو او ما ته په اړه مخکې خبر ندی راکړل شوی او نه هم د دې موضوعاتو په اړه د غور کولو او اړونده اسنادونو د سپارولو لپاره مناسب فرصت راکړل شوی دی. دې کار د غوښتنلیک ټوله پروسه په پراخه کچه غیر عادلانه او/یا غیرقانوني کړې ده.

اوس مهرباني وکړئ **<u>په بیرنۍ ډول</u>**لاندې کارونه وکړئ :

i. په لیکلي بڼه تایید کړئ چې تاسو اوس زما غوښتنلیک بیا پرانیزئ، او دا تاییدوئ چې د ورتیا منفي پرېکړې ته باید بیاکتنه وشي او ما ته یو واضح او معقول فرصت راکول کېږي چې د لاندې (ii) او (iii) له ترلاسه کولو څخه وروسته نور شواهد او/یا اسناد لږترلږه 14 ورځې وروسته شامل کړم؛
ii. زما د غوښتنلیک فورمې یوه کاپي او د معلوماتو د خپرېدو په وخت کې زما په اړه له تاسو سره ټول موجود معلومات راولیږئ، ترڅو زه د هغو معلوماتو کچه معلومه کړم چې کېدی شي افشا شوي وي؛
iii. د هر ډول خطر ارزوني راپور یوه کاپي راکړئ کوم چې تاسو وروسته له هغه ترسره کړې چې د معلوماتو له افشا کېدو خبر شوئ ترڅو زه پوه شم چې تاسو ولې فکر نه کوئ چې زه په خطر کې یم؛ او
iv. په دې اړه چې ولې زه د افغان غبرګون لارې (ARR") پرګرام لاندې منتقل نه شوم روښانه وضاحت ورکړئ، او همدارنګه د هغې لارښوونې یا پالیسي یوه کاپي راکړئ چې د دې پرېکړې د کولو لپاره کارول شوې وه.

که تاسو په دې اړه ځانګړي دلایل لرئ چې ولې تاسو په خطر کې یاست، تشریح یې کړئ - د امکان په صورت کې د ARAP پرګرام [Self-help](#) [لارښود](#) وکاروئ ترڅو خپل بیان چمتو کړئ.

مهرباني وکړئ پورته موضوع **د دې لیک له ترلاسه کولو څخه د ۱۴ ورځو په دننه کې** تایید کړئ.

په درناوي،

[ستاسو نوم] → خپل نوم او تخلص د لاسلیک په توګه ولیکئ